سمیع الدین افغاني

۲۰۱٤/۰۱/۲۱

جلا وطن شاعره

ای بندي د زمـــــاني دود او دستور
ته بـي وسي، نا علاجــه يي صبور
د هجران او دغربت په دام اسيري
د وطن تيارو حالاتــو کړي مجبور
ای همرازه د طبيعت د ښکلا ګانـو
ته سپيڅلي ته الماس د کـوي تـــور
ته پخپله ځانـلـه عـــــزم اراده شــه
ترغلام حلقه به ګوش ښه دی باتور
افتخار په هغه پوهــه او طبيب شه
چي په ښه نسخه علاج کړي د رنځور
چي په پوهه لار پيدا کړي د رازونــو
لوړ همت شي، افتخار شي د غرور
نن نړۍ لوړاسمانـو ته لاري باسي
موږلا اوس سکنی ورور ګنو تربور
ستا احساس کي دوطن مينه ځليږي
ته ځلانده، سره لمبه يـــي د سرور
ستا په ګوتو او قلـم کي برکت شته
افغاني مينه، احساس ليکه ضرور

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ